SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپریږی
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان
پنځم کال اووه دیرشمه ګڼه پرله پسي(۳۲٤) یکشنبه د۱٤۲۲هـ ق کال د صفرالمظفر(۱۷)د۱۳۷۹هـ ش کال د غبرګولی (۱)د۲۰۰۰میلادي کال د می(۲۱)

د اطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوری مرستیال له بی بی سی سره په مرکه کی :

حیات «٦» ملیون افغان تحت تهدید جدی خشکسالی قرار دارد

شریعت : بعد از گذشت ۲۸ سال باز هم افغانستان دامنگیر آفت کم آبی یا خشکالی گردیده است .

محترم طالب العلم محمد یوسف رئیس اداره ضد حوادث ریاست الوزراء به خبرنگار ما در زمینه چنین اذعان داشت : طبق آمار و احصائیه گیری که صورت گرفته است هم اکنون حیات ٦ ملیون افغان تحت تهدید جدی خشکسالی قرار دارد.

وی اضافه داشت : این خشکسالی که در آغاز متوجه ولایات جنوب غربی کشور چون : فراه، نیمروز، زابل، کندهار و هلمند بود از چندی بدینسو اثرات سؤآن در حوزه مرکزی کشور (کابل، لوګر، غزنی، وردک) نیز محسوس شده است . ص ٤

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا (پرهیزګاری) ته .

(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د ورونیو هیوادو تر منځ :

د دوستانه اړیکو تأمین د اسلامی امت د یووالی لامل دی

باید د نړی مسلمانان له اسلامی وحدت نه په الهام اخستلو د دښمنانو دسیسی شنډی کړی

د اسلامی امت دښمنان خپله بقا د مسلمانانو په تفرق کی وینی

د ریاست الوزراء اداری مرستیال محترم ملا محمد حسن اخند

پاکستان ته مو د سفر پایلی مثبتی وی

د کورنیو چارو وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند

په دی وروستیو کی چی د افغانستان د اسلامی امارت د کورنیو چارو محترم وزیر ملا عبدالرزاق اخند د یوه هیئت په مشری د ځینو اړوندو مسایلو د حل په اړه د پاکستانی مقاماتو په رسمی بلنه هغه هیواد ته سفر کړی و بیرته هیواد ته راستون او پرون یی د خپل سفر او کړو وړو رپوټ د ریاست الوزرأ اداری مرستیال محترم ملا محمد حسن اخند ته وړاندی کړ .

د خپل دی رپوټ په ترڅ کی محترم ملا عبدارزاق اخند د سفر نتیجی مثبتی وبللی او د دواړو ورونیو هیوادونو په راتلونکی بی باندی د انسانی دوستانه سفرونو رول اغیزمن وباله.

د ریاست الوزراء اداری مرستیال د کورنیو چارو د وزیر او د هغه دور سره هیأت د ٤ مخ

د ستری محکمی هیأت د هلمند قضایی محکمی وکتلی

د افغانستان داسلامی امارت دستری محکمی واکمن او لوړ رتبه هیأت د هلمند ولایت د موسی کلا، نوزاد، واشیر او د ګرشک د ولسوالیو محکمی وکتلی او د هغو چاري یی په هر اړخیزه توګه وڅیړلی.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د ستری محکمی د مقام د سلاکار محترم مولوی میر حبیب آغا په مشري د ستری محکمی لوړ رتبه هیأت چی په ترکیب کی یی جید عالمان او تکړه قاضیان شامل دی د هلمند ولایت د موسی کلا ، نوزاد، واشیر او د ګرشک د ولسوالیو د محکمو د کتنی په دوران کی ددغو محکمو چاری په هر اړخیزه او دقیقه توګه ٤ مخ

مرتکبین عمل قمار به پنجه قانون سپرده شدند

چهار تن قمار باز حین انجام عمل قمار توسط موظفین حوزه هفتم امنیتي دستگیر گردیدند .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : اسامیان هر یك محمد صادق، نور محمد، محمد نعیم و شمس الدین که در مربوطات حوزه هفتم بعمل تا مشروع قمار مبادرت ورزیده بودند توسط ص ٤

محترم معین وزارت امور خارجه از کار و فعالیت موسسه IAM ابراز رضایت نمود

محترم مولوي عبدالرحمن زاهد معین وزارت امور خارجه دیروز در دفتر کارش با شاغلي جان لونر رئیس بورد مشورتي دفتر IAM ملاقات نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در این ملاقات لنبا علي جان لونر ص ٤

به سلسله کمك هاي تاجران ملي به مردم مستحق شهر کابل :

یک تن از تاجران ملی ۳۷۰۰۰ فامیل نیازمند را در کابل مساعدت مینماید

شریعت : محترم حاجی محمد شریف یکتن از تجار ملی کشور به سلسله کمک های قبلی خویش اینبار مقدار ۹۰۰۰۰۰ کیلو گرام روغن نباتی را از طریق وزارت شهدا و معلولین برای ۳۷۰۰۰ خانواده مهاجر و بی بضاعت در شهر کابل مساعدت مینماید.

سلسله توزیع این ص ٤

به ادامه پیوستن قوماندانان مخالفین با اردوي امارت اسلامي افغانستان در مربوطات ولایت فاریاب :

قوماندان معلم عبدالاحد و قوماندان علي احمد با نیرو هاي اردوي اسلامي پیوستند

دو نفر از قوماندانان مخالفین با هشت سرگروپ و یکصدو پنجاه نفر افراد مسلح شان اخیراً در مربوطات ولایت فاریاب با نیرو هاي اردوي اسلامي پیوست .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : به ادامه پیوستن قوماندانان مخالفین و افراد مسلح شان با اردوي اسلامي قوماندان معلم عبدالاحد و قوماندان علي محمد که قبلاً در مخالفت با امارت اسلامي قرار داشتند با پي بردن به نتایج منفي جنگ و سیاست جنگ ص ٤

د اریتیریا خلک د خپلو کورونو پریښودو ته اړایستل شول

په داسی حال کی چی د ایتوپیا مقامات د پوځی بریالیتوبونو او د ارتیری دزوو مهمر ښارونو د نیولو خبری کوی د ارتیري په زرګونو تنو خلکو د امن ځای د پیدا کولو په خاطر خپل کورونه پریښی دی.

د فرانسی د رادیو د خبر له مخی څه د پاسه یو ملیون تنه د ایتوپیا د سرحدی سیمو او د ایتوپیا او ارتیریا تر منځ د جګړی ٤ مخ

د نشه یی توکو په ضد د اسلامی امارت هڅی د قدر وړ دی

د ترکیی د سفارت دویم سکرتر

د مخدره موادو پر خلاف د مبارزی د امارتي عالي کمیسیون رئیس محترم ملا عبدالحمید اخند زاده پرون د خپل کار په دفتر کی په اسلام اباد کی د ترکیی جمهوریت د لوی سفارت له سکرتر طغرل بیل تیکن سره وکتل. د باختر ٤ مخ

په روسیه کی یوه سخته چاودنه وشوه

د روسیی د سنت پترزبورګ د ولایت د پوځی اډی د مهماتو په ډیپو کی پرون شپه دیوی سختی چاودنی له امله زیات زیان رسیدلی دی.

د مسکو د خبری سرچینو د خبر له مخی ددغی چاودنی له امله چی د استوګنی یوی ص ٤

جنگ های چریکی همیشه در چیچن ادامه خواهد داشت

صدای امریکا : مراضع عساکر روسی یکبار دیگر در چندین تپه در داخل گروزنی پایتخت چیچن مورد حمله قرار گرفت. روسها میگویند : مسخدوف به مبارزین خود گفته است که حملات چریکی را در هر جاییکه میتوانند شدت بخشند این حملات در گروزنی در جمله جدی ترین حوادث ایست که بعد از عقب نشینی مجاهدین چیچن از گروزنی در ماه فبروری گذشته و بدست ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ایا د روم له پروسی نه د امریکا ملاتړ ربنتیا دی ؟

دوه دری ورځی مخکی د پخوانی پاچا د سولی د پروسی چی د لویی جرګی پروګرام یی هم بولی یو پلاوی امریکی ته تللی و او هلته یی د بهرنیو چارو وزارت له یو شمیر مامورینو سره لیدنه وکړه، امریکایی مأمورینو هم په خپل وار د پاچا استازو ته د ملاتړ او ملګرتیا ډاډ ورکړ خو دا چی امریکایی چارواکی به په څه ډول او څومره اندازه د روم د دغو هلو ځلو ملاتړ وکړی، نه ده معلومه او لا یو شمیر سیاسی کتونکی خو په دی کلک باور لری چی دا ملاتړ یوازی او یوازی د خولی ملاتړ دی او امریکایان غواړی په دی ډول په اسلامی امارت یو څه د باو واچوی او یا که وکولای شی څه ستونزی ورته را پیدا کړی. کنه امریکا ۲ مخ

صفحه دوم قسمت دوم

ګزارش کار و فعالیت وزارت معادن و صنایع طي سال ۱٤۲۰ :

تصدی افغان ترکانی یگانه مؤسسه تولید محصولات چوبی در کشور میباشد

در سال ۱٤۲۰ (۳۵۰۰۰) تن کود کیمیاوي و ۱۳۵ ملیون کیلو وات ساعت انرژي برق تولید گردیده است

یگانه راه بیرون رفت از مشکلات جلب مساعدتهاي مالي و تخنیکي مؤسسات بین المللي و سرمایه گذاري کمپني هاي خارجي میباشد

به تعقیب کودتای نا فرجام در پاراگوای

هفتاد نفر باز داشت شدند

به تعقیب کودتای نافرجام پنجشنبه گذشته در پاراگوای مقامات آنکشور دیروز هفتاد نفر را که چار تن آنها از اعضای کنگره آنشکور هستند باز داشت کرد.

به گزارش منابع خبری اکثر دست گیر شده گان از اعضای نیرو های امنیتی هستند که گفته میشود از طرفداران یک جنرال سابق ارتش پاراگوای و عامل اصلی کودتای اخیر هستند.

جنرال رویدو این جنرال ٤ مخ

کودتاچیان فیجی صدراعظم گروگان شده را به قتل تهدید نمود

کودتاچیان که اعضای کابینه کشور فیجی را به گروگان گرفته اند دیروز تهدید کردند اگر خواسته های شان بر آورده نشود مهند را چودری صدراعظم فیجی را خواهند کشت .

رهبر کودتاچیان که خود را صدراعظم موقت فیجی نامیده است از مهند راچودری خواسته است که از رئیس جمهورآنکشور بخواهد نیرو های نظامی را از اطراف پارلمان دور کند.

ص ٤

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مسرستیال : غلام محمد «فاروق»
دبهرني گڼي بيه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
توزیع او شکایات : ٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤۰۳۸٥ / ۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتی برخه

هیڅکله هم نه غواړی چی یو زوړ سولیدلی کس بیا د سیاست ډګر ته راولی کوم چی تیر کړه وړه ئی هم ښه ورته معلوم دی، سیاسی حلقی په دی هکله دا دلیل هم وړاندی کوی چی د ظاهر شاه پخوانی کړنلاره د امریکی خوښه نه وه او دا ځکه چی نوموړی له امریکی زیات د روس په لور میلان درلود، او عملاً یی روسانو ته په هیواد کی د لاس وهنی او خپلو موخو ته د رسیدو ډیر چانس ورکړی و لکه چی ټولو ددی کار پایلی ولیدی او بالاخره افغانستان د روسانو له خوا اشغال شو، بله خبره یی داده چی که امریکا غوښتی وای نو د جهاد او مقاومت په وخت کی به یی راوستلی و او ښه پریمانه برخه به یی ورکړی وه او اوس به په ملت کی د ډیر نفوذ او رسوخ څښتن و خو امریکی داسی ونه کړل او ظاهر شاه هم په سختو شپو ورځو کی د ملت له څنګه لری پاتی شو، په جهاد کی یی برخه وانه خیستله او په دی ډول یی دولس سره اړیکی وشلیدلی په ظاهره امریکایانو ظاهرشاه په دي خبره غولولي چي بوازي هغه کولاي شي چي د مخالفینو او اسلامي امارت تر منځ د روغي جوړي سمبول واقع شي خو دا اتکل بالکل غلط دي ځکه په اسلامي امارت کي خو چي زعامت یې د مسلمان، عالم، متدین او مجاهد امیر په غاړه دي دېته ضرورت نه لېدل کېږي چي پر ځاي يې داسي څوک راهشي چي تر شاهي د افغان مؤمن ولس د دښمنانو لاس وي.

همدارنګه د پخواني پاچا شخصیت د مخالفینو لخوا هم تر سوال لاندي دي نو څرنګه به وکولاي شي چي د امریکاېانو او دده له غوښتني سره سم دي په خپل ارمان بریالي شي.

له بلی خوا زمونږ ځینی ګاونډیان هم د ظاهر شاه په هکله ښه پاخه ملاحظات لری او نه غواړی چی نوموړی په افغانستان کی یو ځل بیا مطرح او په سیمه کی د لویو طاقتونو د ګټو لپاره کار پیل کړی، هغوی په دی باوری دی چی ظاهر شاه به یو ځل بیا د روس او امریکی لاس وهنو ته لاره هواره او په دی ډول به سیمی ته یو جنجال جوړ کړی بر سیره پر دی که امریکا وغاړی نو د ځوانو او نویو دیموکراسی پلوو غورځنګونو او اشخاصو په واسطه خپله لوبه لا ښه توده ساتلای شی او د ظاهر شاه غوندی زړو شیږو ته چی ټول عمر یی شخصی او استبدادی حکومت کړی، هیڅ ځای نه پاتی کیږی.

پورتنی دلایل ټول پاخه او په کلکو سندونو ولاړ دی خو له دی ټولو یو زیات او مهم شی دا دی چی امریکا هیڅکله هم په افغانستان کی سوله، ثبات او استحکام نه غواړی ځکه دلته که هر ډول مستحکم اسلامي حکومت را منځ ته کیږی نو خامخا به امریکې ته یو ډول سرخوږی پیدا کوی نو ښکاره ده چی امریکا آن د ظاهر شاه په راوستو هم یو موتی او مستحکم افغانستان نه غواړی نو څوک دی په دی نا پوهی او سادګی کی نه غورځیږی چی که ظاهر شا منځ ته راشی نو امریکا به یی ښه په خلاص مټ ملاتړ وکړی او ښی پریمانه اقتصادی مرستی به ورته راولیږی په دی هکله مونږ په خپل چاپیریال کی په لس ګونو مثالونه د سر په سترګو وینو چی هر کله د امریکی خپله ستراتیژی بدله او نړیوال بهیر په بله خوا روان شی نو ډیر ژر د امریکی خواږه ملګری رژیمونه د هغوی په دښمنانو بدل شی زمونږ په خوا پوری ګاونډی هیواد پاکستان ددی خبری یوه ښه بیلګه

ده چی د ډیرو کلونو راهیسی یی ورسره اندیوالی وه خو اوس یی د هند لوری رانیولی او پاکستان ته ایله ستونزی را پیدا کوی نو له همدی کبله په زغرده ویلای شو چی راځی له پردو به د خیر طمع نه کوو او افغانانو ته په کار ده چی یوازی د خپل سرماغزه په کار واچوی، خپله ګټه او تاوان وپیژنی، دچا په غوږو غوږو غرضی خبرو دوکه نه شی او په خپله د خپل کور، خپل ملت او خپل یووالی لپاره متی راونغاړی او د اسلامي امارت تر واکمني لاندي خپل هیواد سمسور، ودان او د پردیو له احتیاجه را وباسی.

چی نه مری لا به واوری

عبدالرحیم «ثاقب»

ملگری !!!

خبر دی چی د امریکی د ولس مشر بل کلنتن میرمنی هیلری کلنتن د امریکی د سنا په مجلس کی د غړیتوب لپاره ځان کاندید کړی.

هیلری له ډیره وخته راهیسی په دی لټه کی ده چی دغه آرمان یی تر سره شی د هیلری دغه آرمان پوره کیدل که له یوی خوا هغی ته د ښه بریالیتوب زیری دی خو بل لوری ته په ښاغلی کلنتن باندی بیا مرګونی ګذار دی، ځکه د هغه د ولس مشری دوره نوره د پسرلی داوری په شان ورځ په ورځ په ختمیدو ده او اوس یی د واکمنی ایله ۷ میاشتی پاتی دی.

د ولس مشری د دوری له پای ته رسیدو سره سم باید نور هغه له سپینی مانی څخه کډه بار اوپښی سپکی کړی نو چی کله د ښاغلی بل کلنتن اوږي د جمهوری ریاست له واکمنی نه سپکی او سپینه مانی کومه چی د هغه او مونیکا د یارانی ځانګړی مانۍ وه له لاسه ووځی بیا خو هیلری هم دومره خواره نده چی دابه بوالحۍ هغه کلنتن پوری تړلی وی چی د واکمنی په وخت کی یی د مونیکا تر مجلس پوری دی ته یو توت اهمیت هم نه ورکاوه.

میرمن هیلری کلنتن همدا اوس لا کله نا کله په امریکایی مطبوعاتو کی په ښو رنګینو تصویرونو کی د امریکی د راتلونکی منتخب ولس مشر الګورتر څنګ په ځانګړی ناز او نزاکت سره لیدل کیږی هغه هم ملامته نه ده ځکه چی یو وخت یی د بل کلنتن او مونیکا د یارانی له لاسه ډیری داسی ترخی او به تر ستونی تیري کړی.

په هر صورت خبره مو د هغی په نوی کاندید توب کوله هغه اوس ډیر وخت په نیویارک کي تیروی تر څو هلته د ځان په پلوی د خلکو رأی جلب کړی او ددی په نشتوالی کی ښاغلی کلنتن ایکی بواځی پاتی وی.

د هغه یوه شل کلنه چیلی نومی لور په پوهنتون کی په خپلو زده کړو لګیا ده او مونیکا هم وروسته له دی چی دی یی په لومړی ځل د امریکی د لوی څارنوال په مخ کی له یارانی څخه کوږ منکر شو دوباره یارانی ته دده د بې همتی په خاطر ځان نه ټینګوی.

له ډیره وخته راهیسی له امریکایی ژورنالستانو سره دا پوښتنه را پیدا کیږی چی ښاغلی بل کلنتن به دغه د پردیسی ترخی شپی چیری او له چا سره سبا کوی.

د رویټر خبری آژانس په حواله دغه پوښتنی د بل کلنتن تر غوږو هم وررسیدلی او له همدی کبله کله چی هغه له نیویارک نه په یوه الیکوپتر کی د واشنګتن په لوری را روانیدو ټولو خبریالانو ولیده چی هیلری کلنتن په ډیره بی پروایی له هغه سره مخه ښه وکړه او دی یی بواځی پریښود چی ژورنالستانو ته د خپل یوازیتوب په هکله معلومات ورکړی ښاغلی کلنتن په خلاصه خوله خبریالانو ته وویل: که هیلری هر چیری وی، وی دی زه یی هیڅ پروا نلرم. ځکه ما اوس خپل نوی ملګری پیدا کړی، هغه له ما سره یو ځای اوسی او یو ځای راسره بیدیږی زما دغه وفادار ملګری «بادی» نومیږی هوکی زما ډیر خوږ ملګری زما سپی «بادی» زما او د هغه د ژوند ډیری خوږی شیبې چی سره تیریږی هغه زما ملګریٔ زما «بادیٔ» زما سپی دی.

د ښاغلی کلنتن خبره د ژورنالستانو زړه ته ښه په کلکه ولویده خو ده بیا هم د هغوی د بشپړ اطمینان لپاره د یوه بل پخوانی ولس مشر ښاغلی (هاری ترومن) هغه مشهوره مقوله هغوی ته ور واوروله چی پدی اړه یی ویلی وه.

که څوک غواړی چی په واشنګتن کی د یوه ښه وفادار ملګری خاوند واوسی نو دی سپی ونیسی. هغه د ژوند په ټولو شیبو کی په پوره وفاداری له خاوند سره او سیږی او په هیڅ حال کی یی یوازی نه پریږدی.

ښایی ښاغلی کلنتن د مونیکا او هیلری په ځای د خپل نوی وفادار ملګری (بادی) ملګرتیا ته په دی منظور ترجیح ورکړی وی چی هغه له ټولو انسانی ځانګړتیاوو څخه بی غمه او په فطری لحاظ یکی یوازی له انسانه سره په وفاداری مکلف دی نور که دا انسان د امریکی جمهور رئیس وی او که د هغه د سپینی مانی د دروازی چوپړوال خو په ملګرتیا کی ټینګ ملګری وی تر آخره ملګری وی چی دغه توقع او وفاداری بیا نه له هیلری، نه له مونیکا او نه له بلی کومی غربی میرمنی او ملګری څخه تر سره کیدای شی.

ګزارش کار و فعالیت وزارت معادن و صنایع طي سال ۱٤۲۰ :

قسمت دوم

ګزارش : محمد سهیل «شاهین»

تصدی افغان ترکانی یگانه مؤسسه تولید محصولات چوبی در کشور میباشد

در سال ۱٤۲۰ (۳٥۰۰۰) تن کود کیمیاوي و ۱۳٥ ملیون کیلو وات ساعت انرژي برق تولید گردیده است

یگانه راه بیرون رفت از مشکلات جلب مساعدتهاي مالي و تخنیکي موسسات بین المللي و سرمایه گذاري کمپني هاي خارجي میباشد

۵- صنایع نساجي : صنایع نساجي که شامل فابریکات نساجي بگرامي، نساجي افغان ، نساجي بلخ، پشمینه بافي کندهار و پلچرخي و نساجي نخي هرات مي گردد مواجه به مشکلات و پرابلم هاي گوناگون بوده زیرا فابریکه نساجي بگرامي و کندهار کاملاً از کار افتیده، کلیه ماشین آلات و ذخایر مواد خام آنها قبل از پیروزي طلباي کرام تاراج شده که تهیه و تدارك ماشین الات مورد نیاز آنها از خارج کشور ضرورت به مبلغ قابل ملاحظه اسعار دارد به همین ترتیب پشمینه بافي پلچرخي نیز به مشکلات گوناگون تخنیکي و مالي مواجه بوده ولي فابریکه بافت کابل و نساجي پلچرخي مربوط نساجي افغان مجدداً فعال گردیده است و ضمناً جهت فعال شدن نساجي بلخ قرار داد با یکنفر متشبث صورت گرفته که عملاً در سال گذشته به فعالیت آغاز نموده است.

٦- صنایع کودکیمیاوي :

در سال ۱٤۲۰ تولیدات کود کیمیاوي بمقدار ۳٥ هزار تن انرژي برق ۱۳٥ ملیون کیلو وات ساعت بوده که تصدي فابریکات کود و برق توانسته علي الرغم فرسایش تجهیزات و ماشین آلات آن سطح تولیدات خویشرا تا اندازه حفظ نماید.

۷- صنایع ذغال سنگ :

در عرصهٔ معادن کرکر و دودکش، کلیچ، دره صوف، ودو آب ، میخ زرین، که مربوط تصدي ذغال سنگ شمال است و معدن ذغال سنگ سبزك هرات شامل میباشد.

تولیدات ذغال سنگ تصدي ذغال سنگ شمال در سال ۱٤۲۰ جمعاً به مقدار ۳۸ هزار تن بوده ولي معدن ذغال سنگ سبزك که در رژیم هاي گذشته تمام تجهیزات و ماشین آلات معدني آن از بین رفته و طبعاً از سرگیري مجدد تحقیقات جیولوجیکي آن مستلزم تجهیزات کوهي و وجوه مالي بوده که فعلاً امکانات تدارك آن از بودجه امارت اسلامي ممکن نیست به هر حال صنایع استخراجي ذغال سنگ در مجموع مواجه به پرابلم هاي مالي و تخنیکي مي باشد.

۸- صنایع چوبي :

تصدي افغان ترکاني منحیث یگانه موسسهٔ تولید کننده محصولات چوبي فعالیت داشته که این فابریکه نیز به اثر جنگ هاي پي هم خساره مند شده ولي با آن هم این فابریکه در فابریکه صنایع تجارتي فعال شده چنانچه در مراجع هوتل کابل، هوتل آریانا، و هوتل پارك کار کرده است ضمناً به خاطر احیاٴ و باز سازي مقر اصلي فابریکه اقدامات معین رویدست گرفته شده است.

۹- صنایع تولید الکول :

تصدي متمم طبي و تخنیکي بر اساس تصمیم این وزارت در سال گذشته به شکل شرکت مختلط در آمد.

در جریان سال ۱٤۲۰ بمقدار ۱۲۰۰۰ لیتر الکول طبي تولید و به ریاست امور فارمسي تحویل داده شد که از این مدرك مبلغ ۱،٥٦ ملیارد افغاني به حساب شرکت در بانك انتقال داده شد در پهلوي اقدامات و اجراآت انجام شده ریاست هاي تحقیقات جیو انجنیري و سروي معادن و جیولوجي نیز اجراآتي داشته چنانچه تصدي تحقیقات انجنیري مبلغ ۹۸ ملیون افغاني عواید بدست آورده است و ریاست سروي معادن و جیولوجي گروپ هاي تحقیقاتي خود را به ولایات کندهار، پکتیا، ننگرهار، غزني ، زابل اعزام داشته و نیز ترمیم تعمیر لابراتوار هاي آن از طرف دستگاه ساختماني آغاز یافته است طي سال گذشته حدود ۱۷۳ پروژه سکتور خصوصي در این وزارت ثبت و راجستر شده است و پروژه هاي مذکور مربوط بخش هاي صنایع پلاستیك سازي، نساجي، حجاري، قالین شوئي ، قالین بافي، گوگرد سازي، بوت دوزي ، صنایع چرمي و غیره میباشد.

- پلان سال ۱٤۲۱ تمام پروژه ها و مؤسسات تولیدي وزارت معادن و صنایع قبلاً به وزارت محترم پلان غرض طي مراحل و منظوري ارسال گردیده است.

این بود ګزارش مختصر کار و فعالیت وزارت معادن و صنایع که تقدیم شد.

قابل تذکر است که مشکل عمده و اساسي که در مقابل وزارت معادن و صنایع وجود دارد نبودن سامان الات، پرزه جات مواد خام کمبود پرسونل ماهر فني، تخنیکي و حسابي بوده و از همه مهمتر اینکه احیاٴ و تجهیز مؤسسات و پروژه هاي مربوط وزارت نیازمند به بودجه کافي بوده تا با استفاده از آن بتوان ضروریات تخنیکي را مرفوع نمود.

یگانه راه بیرون رفت از مشکلات فوق الذکر همانا جلب مساعدت هاي مالي و تخنیکي مؤسسات بین المللي و جلب سرمایه گذاري کمپني هاي خارجي مي باشد که امیدواریم وزارت هاي محترم پلان و امور خارجه ما را درین راستا کمك و یاري رسانند.

تپش

وحید مژده

رجـــعـــتي براصل کن بگذر ز ننگ نام ها
بشکن این زنجـــیـــر ها و پاره کن این دام ها
همچو موج اندر تپش جستیم مفهوم حیات
جــز به گـورســتــان نباشــد مــأمن آرام ها
چشم را بي پرده تر بکشـــا بر امـــروز وطن
دشـــمنان دارند قـــصـــد رخنه در فـــرجـــام ها
اســـتـــواري و ثبـــات ملتي افگنده است
طشت رســـوایی دشـــمن را ز اوج بام ها
ضـرب شمشـیـر مـجـاهد مـاند بر تاریخ روس
یادگــاري کـــز نهـــیـــبش لرزه بر اندام ها
نقش پاي مـــا بسوي نور راهي نو کـــشـــود
اي ســـمـــرقند اي بخـــارا پي بگیـــر این گـــام ها
مـــشـــعلي افـروخـتـیم از خـون فـرا راه شـمـا
کـــز فـــروغش درشکســـتـیم آن طلسم شـــام ها
قـــهـــر یزدان بر گـــزید هر گـــه گـروهي بر گـــزید
قـــاند خـــود را ز جـــمـــع دزد ها بد نام ها
وحـــدتي باید وگـــرنه از نفـــاق و افـــتـــراق
شـــهـــد پیـــروزي شـــود چون زهر اندر کـــام ها
فـــرق دشـــمن با رقـــیـب اینان ندانند اي عـــجب
ســـالهـــا آتش نپـــخـــتـــه ذره بي این خـــام ها!
کس بزور و جـــبـــر اینجـــا کي دگـــر دارد بقـــا
رفت آن هـنـگـامـــــه و بگذشت آن هنگام ها
از فـــریب عـــشـــوه، آن ســـاقي مـــغـــرب حـــذر
جـــاي مي زهر هلاهل ریزد اندر جـــــام ها
حـیله بسیـــار است اندر آستـین غـــرب و شـرق
ملت آگـــاه غـــافل نیـــســـت از انجـــام ها

نام تو نقشي به تاریخ است و خون ما بخاک
لاله، صـحـرا شناسـد پاس مـا گـمنام ها

د حق توره

شهید بسم الله «سحر»

مـا هر کله دی تیـر کـړی ژوند د توری | زه په هر عـصـر کی یم خـاوند د توری
هر غلیم می دی هر وخت کښی ځملولی | دی هر دښت می د وطن مـیـوند د توری
باطل زور می تل په وران-ی او به شـوی | د حق زور لرم په پاک مـروند د توری
د ژوندون تپولو خوندونو نه پسی تیـر یم | چی په حق مـاته مـعلوم دی خوند د توری
سـیـلابونه د دښمن ورته وچیـری | ورته پروت می دی په مخ کی بند د توری

ځوک چی پند په ژبه نه اخلی «سحره!»
بیـا و هغـو ته پکار دی پند د توری

د شعر او ادب نړۍ

چي کـشـور د افـغـانانو مـعطر کـا
د هر بیت مصرعٔ مي زلفي د خوبان کړی

د سباون په هیله

شهید عبرت

مـلگـرو پاڅی و خـوځیــږی د بدلون په هـیـلـه
وکـړی له شـپـو سـره جگړی د سـبـاون په هیله
ډیوی مـو مـاتی کـړی راودانگی د لمـر په لوری
واړه اوړه پـه اوړه لاړ شـی د یـوون پـه هـیـلـه
نور د وحـشت ککری مـاتی کـړی د مـرگ په تیـرو
یو ځلی مـړه شی بیـا ژوندی شی د ژوندون په هیله
د زمـانـی د طوفـانو مـخی ته یو مـوتی شی
تپوله لاسـونه سـره ورکـړی د سـمـون په هیله
د هدف عـرش ته ور اوچت کـړی تپنگ پاخـه گـامـونه
لومی د فـریب دی مـاشـه شـوی د نیـون په هیله
چی مـو د پت او د غـیـرت په جـوگـو اور ولگی

خـود به را گـوری نن پردی د نندارتون په هیله
ددی ویرجن تاړاک په دی ستړی ستومان بهیر کښی

رباعیات

محمد حنیف بلخی

بکن از نعرهٔ جوشندهٔ حشري
بپا همچون "سرافیل" خداوند
بکش عصر نوین را در کمندت
مگر مگذر ز "تنزیل" خداوند

* * *

نمیدانم چرا با نا امیدي
بلب داري شعار وا اسف را
نگردي تا ابد مغلوب هرگز
دگر داني رموز لا تخف را

* * *

به این سستي پا و بزدلي ها
رهي در کوي مهروئي نیابي
چو موجي سر بگرداني فرو بر
گهر را از ته جوبي نیابي

* * *

د شهید وینا

حنیفه زاهد شاه جوبي

رنگ یم د غـیـرت په پاکـو وینو قـهـرمـان یمـه
سـر می قـربانی کـړ وطن پاله مـسلمـان یمـه
ورونو مـاته نن د لوړ مـقـام مـبـارکی راکی
زه چی شـهـیـد شوی پر خـدمت د سـپـین قـرآن یمـه
مـا د حـیـدری توری گـذار پر هر دښمن کـړی
سـور کـفن می ښـیی شـهـامت غـښتلی ځوان یمـه
مـا چی می شـیـدی د پښتـنی مـوری رودلی دی
وینه می توده ده مـخـور د هر مـیـدان یمـه
خـوښ له غـلامی ځخـه د وینو په لامـبـو یمـه
سـر تیـتـیـرل نه غـواړم ولاړ په تپنگ ایمـان یمـه
مـاتی می ورکـړی ده شـرقی، غـربی غلیم لره
اوس تپولی د نیـا یم پیـژندلی چی افـغـان یمـه
زوی دی غـیـرتی یم غـیـر تمنی مـوری مـه ژاړه
ویاړمی درته پاتی تل ژوندی پردی جـهـان یمـه
ډیرو خـونخـوارانو ازمـایښت رابانـدی کـړی دی
وگـوره «زاهده» بریالی د امـتـحـان یمـه

(۲) د افغانستان په هکله د امریکې غلط سیاسي دریځ

عبدالقیوم «کوچی»

امریکایان چی د افغانستان د اسلامی امـارت په مـاهیت او نصب العـین ښـه پوهیـږی خبر دی چی دا نظام د سپیځلی اسلام پر بنسټ ولاړ یو نظام دی نه روسانو او نه امـریکایانو وکـولای شـوای چی دا تحریک تر خـپلی اغیـزی لاندی راولی د امریکی چارواکی په غلطه سره داسی اټکل کوی چی د افغانستان د اسلامی امارت په بری سره به دا نظام په ټوله اسلامی نړی کی یو نمـونوی نظام وگڼل شی او نور اسـلامی هیوادونه به هم همدا لاره غوره کړی او بیا به د امریکی سیـاسی ، اقـتـصـادی او پوځی گټی تاوانی شی همدا وجه ده چی ددېن لا دن ستونزه یی پلمه کړیده او ټولی سیاسی او اقتصادی لاری چاری یی د افغانستان پر اسلامی امـارت تړلی دی او همدا دلیل دی چی د ۱۹۹۸ عیـسوی کـال د اگست په مـیـاشت کی یی کـروز توغندی په افـغـانسـتـان واورول او ډیر بیـوزلی اوسیدونکی مسلمانان یی شهیدان کړل. د افغانستان مجاهد او قهرمان خلک د ننه په وطن کی او هم د هجـرت په چاپیـریال کی ددی تیری په مقابل کی خپله کرکه څرگنده کړه او یو با ایمانه او وطنپال افغان هم ددغه برېنډ گواښ او تیری ځخه ونه ډار شو، بلکی په ډیری میـړانی سـره یی د خـپل اسـلامی امارت ملاتړ وکړ.

امـریکـایان باید پوه شی چی د افغانستان د اسلامي امارت لومړنی هدف دا دی چی په هیـواد کی بشـپـړه سـوله او امنیت راشي او بیـا د ویجـاړ وطن په رغـونی کی هڅی وکړی او د نورو هیـوادونو مرستی په دی لاره کی تر لاسه کـړی. د افغانستان د اسلامی امارت هیڅکله دا اندیښنی نشـتـه چی خـپـل نظام نورو هیواد ته صادر کړي. بلکه خبره دلته دا ده چی اسلامی امارت په مادی، اقتصادی او سیاسی لحاظ سره هم نشی توانیدلای چی د نورو هیـوادو په کـورنیـو چارو کی لاس وهنی وکړی. په دی واقعیت باندی نه یواځی دا چی د امـریکایانو سـتـرگی نشی خلاصیدای بلکی د امریکایانو برداشت او دریځ هم په دی برخـه کی کمزوری او غلط دی.

کله چی امریکایی چارواکی پوه شول چی د افغانستان سر تیری او مجاهد ولس نه د سیـاسی او نه پوځی تیري ځخـه ډاریږی نو یی اقتصادی او تجارتی بندیزونه د افغـانسـتـان پر بی وزلی او مظلوم ہگر مسلمان او قهرمان ملت وروتپل. ټولی نړی ته څرگنده ده چی دا بندیزونه د ټولو بین الاقوامی حقونو او ملگرو ملتونو د منشور پر ضد یو غیر اخلاقی او انسانی عمل او کـره وره دی او باید وغندل شی. ملگرو ملتونو خپل حیثیت، پت او مقام نن سبا ځکه له لاسه ورکړی چی د سترو قدرتونو او په خاص ډول سره د امریکی تر اغیـزی لاندی راغلی دی او کـرمی پریکړی چی د ملگرو ملتـونو په نامـه او ددریمی نړی د هیـوادونو په خلاف کیږی هغـه ټولی ددی نړیوالی موسسی د بنسټونو سره سمون نه خوری.

د افغـانستان مجاهد او میـړنی ولس چی د امریکی او لویدیځی نړی لوی دښمن یعنی شوروی اتحـاد یی د خپل اسلامی غـورځنگ او ملی مـقـاومت له برکـتـه راوپرزاوه اوس باید د دغو هیواد و لخوا په درنه سترگه کتل شوی وای او د بیا رغونی لپـاره یی ډیری تخنیکی، اقـتـصـادی او سیاسی مرستی ورسره کړی وای که چیری په افغانستان کی د امریکی یا د لویدیځی نړی او یا د ننني روسـیـی د خـوښی سیکولر نظام چی د اسلام د سپیځلی دین پر بنسټ نه وای ولاړ را منځ ته شـوی وای ډیری داسی تخنیکی، اقتصادی او حتی پوځی مرستی به ورسره شوی وای نن سبا امریکا په ټوله نړی کی خپل لاس پوځی نظامـونه او گوډاگیان غواړی او یوازی له هغو سره مرستی کوی . که چیری د یوه اسلامی هیـواد غوځ اکثریت لکه په افغـانسـتان کی چی خلکو غوښتل او په ډاگـه یی هم ثابتـه کړه چی د دوی د کړاونو او غمونو د لری کـولو د پاره یو اسـلامی سپـیځلی نظام لکه د اسـلامی امارت واکمنی په کار ده بیا نو هم امریکایان او هم لویدیځه نړی له دوی سره دښمنی کـوی او په بیلا بیلو طریقـو سـره خنډ ونه ورته جوړوی.

امریکا او لویدیځه نړی ښه پوهیـږی چی د افغـانستان اسلامی امارت د ځلورو کلو په تیریدو سره ډیری ستری کار نامی د سولی او امنیت د راوستلو لپـاره سرته رسولی دی. درنی وسلی یی د ظالمو او خود غرضو قوماندانانو ځخه را ټولی کړی او د هیواد د تجزیی او بیلتون مخه یی ونیوله، د ښځو عزت او عفت یی پر ځای او خوندی کړ. او دا ټولی سـتـری کـارنامی یی د اسـلامی شریعت په پلی کولو کی پرته له تبعیضه سـرته ورسـولی . امـریکایان او ټوله نړی پوهیـږی چی په ډیرو نورو جنگ ځپلو هیـوادونو کی لکه کمـپـوچیـا ، بوسنیـا ، سومالیـا کوسووا او داسی نورو ملکونو کی سره له دی چی په بلیونو ډالره د ملگرو ملتـونو او امریکایانو لخوا په کی لگول شوی دی خو بیا هم د درنی وسلی په ټولولو بریالی شوی ندی امریکایان اعتراف کول او دا منی چی په بوسنیـا کی د پنځو شپږو کلو په ترځ کی لس بلیـونه ډالره ددرنو وسلو د ټولولو لپـاره لگول شوی دی مگر پنځه فیصده وسله هم راټوله شوی نده. دوی حتی په دی بریالی شوی ندی چی په یوه وړوکی اروپایی هیـواد کی نړیوال مـجـرمـین او جنایتکاران چی د هاگ د نړیوالی محکمی لخـوا د سل گـونو بی وزلو خلکو په ټولوژنه تورن او مـحکوم شوی دی ونیسـی او د عدالت منگولو او محکمی ته یی وسپاری.

کـه په رښتـیا سره یوه خـپلواکـه او اغیزمنه نړیواله محکمه او د عدالت مقام په نړی کی چی د سترو قدرتونو لاس پوځی نه وای او اختیار یی خپل وای گرندی شوی وای نو په ډاډ او بشپړ یقین سره به دغی نړیوالی مـحکمی د اسـلامی امـارت کـارنامی ستایلی وای او هم به یی د روسیی ځخه د افغـانسـتان د ودانولو او د خلکو د وژلو او کړولو تاوان اخستی وای او امریکا او نور لویدیځ هیوادونه به چی خپله دښمنی یی د اسلامی امارت سره په ډاگه کړیده غندلی او محکوم کړی وای د امریکی دا خپگان چی افغـانسـتان ولی بن لادن ته ځای ورکړی دی نه حقوقی او نه قانونی بنه لری. امریکا تر اوسـه په دی بریالی شوی نده چی پاخـه او مستند دلیلونه او شواهد د بن لادن د جرم د ثبـوت په برخـه کی وړاندی کـړی . ډیر نور سرتیری مـسلمـانان په نړی کی ژوند کـوی چی د امریکی د سیاسی ددریځونو سره یی دښمنی ده او د بن لادن تر نامه لاندی ځینی فعالیتونه هم سرته رسوی او د امریکی سره خپله کرکه څرگندوی. امریکی پر خپل لاس او د یـوه غـلـط دریځ پر بنسټ د بن لادن ځخـه یو نړیوال قـهـرمـان او اتل جـوړ کـړی دی. له بلی خـوا امریکا د افـغـانسـتـان سره په هیڅ وخت کی داسی یو تړون نه دی لاس لیک کـړی چی یو بل ته به د دوی د خـوښی مـجـرمـین (د دوی په اصطلاح) ورسپـاری ددی خبـری مـعنی دا ده چی د امـریکا دریځ د بن لادن د غـوښتلو په برخـه کی قانونی او حقوقی بڼه او ماهیت نلری.

په افغانستان کی د ښځو د زده کړی او کـار په برخـه کی هم د امریکی دریځ کـوم سیاسی او فرهنگی او بشری بنسټ نلری. په امریکایی کلچـر کی دا واقـعیت ټولو منلی دی او حتی د امریکی په مدرسـو او کـالجـونو کی مـاشـومـانو او ځوانانو ته د دوی په درسی نصاب کی ویل کیږی چی هر هیـواد او د هغـه خلک ځانتـه جـلا او بیل فرهنگی او ثقافتی بنسټونه او معیارونه لری چی کله کله د نورو هیوادو سره په ټکر کی راځی. د ښځو حجاب او اسلامی ستر د امریکی له کلچر سره سمون نه خوری مگر بیا هم د ننه په امریکی کی ډیری مـسلمـانی ښځی او نجونی په اسلامی ستر کی ژوند کوی او د امریکی د قوانینو په اساس ځوک حق نلری چی د هغـوی سـپکاوی وکـړی د امـریکی د اسـاسی قـانون پر بنسټ د امریکی هر وگړی (تبعه) کولای شی چی د خپلی خوښی جامی واغوندی او هیڅوک نشی کولای چی د هغـه د آزادی مـخنیـوی وکړی. البتـه دا خبره باید وشی چی داسی ازادی تر هغـه وخـته پوری د منلو او تطبیق وړ ده چی نورو ته یی زیان ونه رسـیـږی . دلتـه په امـریکی کی هر ځوک کـولای شی چی اووده یـا لـنـډه ږیره ولـری او یا ږیره وخریی دا د هر چا خپل اختیار او د هغـه د شخصي او ځانگړی ژوند طریقه ده .

پاتي لري

دین نصیحت دی

احـــتیاط !

بی احتیاطی د ډېرو انسانی او مالی تاوانونو لامل او پښېمانی راوړونکی پایلی لری خو بیا هم زمونږ پو شمېر هېوادوال او په ځانګړی توګه هغوی چی نوی ماډل ګران بیه جاپانی موټر یی تر پښو لاندی دی، ډېر کم دغی خبری ته پام کوی او زمونږ په دغو تپی تپی سړکونو دومره ګړندی چلند کوی چی له یوی خوابی خپل موټر زیانمن او ډېری پخی او سپنی بی ماتی شی او له بلی خوا د نورو لاروېو او موټرانو د ځوریدا او خوابدی باعث ګرځی او زیاتره وخت لا داسی هم پېښېږی چی د خوار غریب دوه دری واړه موټرونه یو په بل ورولی نو توکل په خدای چی هر څو پکی مړه شول دی خو به د خپل نوی ګړندی په زور ډېر لری رسیدلی وی او که چېری ، بیا لانجه د ترافیکو تر څېړنی لاندی راشی نو صاحب! به ډول ډول واسطی جوړوی او د خپل نفوذ او رسوخ په زور به دوسیه د ځان په ګټه اړوی او لا د خپل موټر د جوړونی لګښت به هم په نورو هغو بی چاره ګانو وراچوی او په دی ډول به پړه هم د هغه چا په غاړه وی چی د صاحب! د موټر ځغاستی په وخت بی هم خپل زوړ موټرګی بوی خواته نه دی ګوښه کړی، که سړی ځیر شی نو دا ډول چلند بېخی له انسانی او اسلامی اخلاقو لری او د نورو لاروېو په حقوقو ښرګند تیری دی خدای پاک مونږ ته په لاره د آرام او کرار تلو وصیت کوی او له متکبرانه چال چلند څخه مو منع کـوی او دا چی باید د نورو لاروېو هم پوره پوره خیال وساتو په دی هکله حضرت لقمان صاحب هم خپل زوی ته نصـیحت کـړی و چی ښـایی د تګ په وخت منځنی اندازه خپله کړی او بل دا چی ددی شان لوکس او ګران بیه موټر شکرانه هم دانه ده چی ته نور خلک وربانـدی آزار کړی او د خلکو زړو کمزورو موټروته په سپکه سترګه وګوری نو کـه د تګ په وخت دغه اسلامی آداب مراعات کړو څه تاوان به مو وی ؟ آیا خوښه مو نه ده ؟

د یرغمل نیوونکو او فلپینی چارواکو تر منځ خبری اتری وشوی

پرون فلپینی چارواکو اعلام وکړ چی ددغه هیواد استازی د لومړی ځل لپاره په دی بریالی شول چی له هغو یرغمل نیوونکو سره خبری اتری وکړی چی لا تر اوسه پوری ددغه هیواد په جنوب کی ۲۱ تنه په خپل واک کي لری.

د رویټر د خبری آژانس د خبر له مخی دیپلوماتانو له یرغمل نیوونکو سره له خبرو اترو وروسته د هغوی غوښتنی پیچلی وبللی. د مالیزیا د بهرنیو چارو وزیر حامد البار له یرغمل نیوونکو سره په خبرو کی هغوی ته وویل چی د فلپین دولت د ټولو یرغملو د خلاصون غوښتنه کوی .

ده زیاته کړه چریکانو د فلپین د لسګونو تنو اتباعو د حالت د څیړنی لپاره د مالیزیا د سبا په ایالت کی د یـــــوی غونډی د جوړولو غوښتنه وکــــــړه چی په غیر قانونی ډول په دغه ایالت کی شپی سبا کوی. دغه راز دوی په خبرو کی د مالیزیا د فعال رول غوښتنه وکړه .

د صنایعو د چارو د عمومي ریاست خبرتیا

ټاکل شوېده د صنعت کارانو ټولنه خپله غونډه د سه شنبي په ورځ د صفر المظفر د میاشتي په نولسمه نیټه جوړه کړي.

د رانه صنعتکاران دي د خپلو جـــوازونو سره یو ځاي په ټاکلي ورځ په پلچرخــــي کي د صنعـــــتي پارکـــونو ریاست ته ور شي.

بقیه | محترم معین وزارت ...

در حالیکه هاري لامي رئیس موسسه آي اي ام در کابل نیز حاضر بود در رابطه به اجلاس سالیانه مشورتي موسسهٔ آي اي ام مفصلاً توضیحات داده افزوده در اجرا سن متذکره فیصله بعمل آمده است تا ساحه کار و فعالیت موسسهٔ آي اي ام در افغانستان هر چه بیشتر توسعه یافته و پروژه هاي انکشافي بیشتر روي دست گرفته شود.

بعداً محترم معین وزارت امور خارجه از کار و فعالیت موسسهٔ متذکره ابراز رضایت نموده اضافه نمود : ما امید وار هستیم تا جلسات مشورتي موسسهٔ آي اي ام نتایج مثبت و مفید جهت کمك و مساعدت بیشتر براي مردم نیازمند افغانستان در بر داشته باشد امارت اسلامي افغانستان همواره کوشیده تا تسهیلات لازم را براي فعالیت هاي موسسات خیریه بین المللي فراهم آورد و از هیچ نوع سعي و تلاش در این زمینه دریغ نمي ورزد.

بقیه | مرتکبین عمل قمار به ...

مؤظفین امنیتي حوزه هفتم بالفعل دستگیر گردیدند.

مرتکبین عمل قمار بلا فاصله به پنجه قانون سپرده شدند.

بقیه | قوماندان معلم...

طلبانه مخالفین از مخالفت دست کشیده و همراه با هشت نفر از سر گروپ ها و یکصدو پنجاه نفر افراد مسلح و یکمقدار سلاح ثقیل و خفیف خویش در مربوطات ولسوالي کوهستانات ولایت فاریاب با نیرو هاي اردوي اسلامي پیوستند.

از قوماندانان متذکره محترم ملا دین محمد معاون ولایت فاریاب و مسؤولین ولسوالي کوهستان آنولایت استقبال نمودند .

طبق یك خبر دیگر محترم ملا دین محمد معاون ولایت فاریاب در حالیکه عده از مسؤولین نظامي آنولایت نیز حاضر بودند با قوماندان معلم عبدالاحد و قوماندان علي محمد که اخیراً با نیرو هاي اردوي اسلامي پیوسته اند ملاقات نمود.

طي این ملاقات محترم معاون ولایت فاریاب ضمن توضیح اهداف شوم مخالفین و دشمنان اسلام بر وحدت و یکپارچگي ملت تأکید ورزیده و پیوستن قوماندانان و افراد مسلح شانرا گام مثبت و ارزنده در جهت نیل به آرمان شهداي انقلاب اسلامي دانسته و از ایشان تقاضا نمود که همانند سایر هموطنان در خدمت مردم و وطن خویش مجدانه عمل نمایند. سپس قوماندانان متذکره ضمن اظهار نفرت از عملکرد هاي جنگ طلبانه مخالفین امارت اسلامي اظهار داشتند که با درك مسؤولیت وجداني شان در جهت خدمت بوطن و مردم و تأمین صلح سراسري در کشور از هیچگونه سعي و تلاش دریغ نخواهند ورزید.

پاتې | دنشه یي توکو ...

اطلاعاتی اژانس خبر راکړ په دی کښته کی د مخدره موادو پر خلاف مبارزه کی د افغانستان د اسلامی امارت د پروګرامونو پالیسی اقداماتو او مشکلاتو اود اوسنیو امکاناتو له په پام کی نیولو سره د مخدره موادو په کنترول او مخنیوی کی د افغانستان د اسلامی امارت د تیاری په باره کی معلومات وړاندی کړل. وروسته په اسلام اباد کی د ترکیی سفارت محترم سکرتر له مخدره موادو سره د مبارزی د امارتی عالی کمیسیون له رئیس سره د کښتی له امله مننه وکړه او وی ویل د نشه یی موادو په ضد د اسلامی امارت هڅی مثبتی او وړاندی شوی معلومات د قدردانی وړ دی زه د دغه ټولی موضوعګانی د خپل هیواد له اړوندو مقاماتو سره طرحه کوم او دا لرم چی په دی برخه کی هیڅ راز مرستی ونه سپموی.

پاتي | د دوستانه اړیکو تامین ...

سفر له مثبتو پایلو نه خوښی ښرګنده کړه او ددی ډول سفرونو د اهمیت په اړه یی وویل : دوروڼو هیوادونو تر منځ د دوستانه اړیکو تأمیـــین د اســـلامی امت د پوره یووالی او ټینګښت په معنا تلقی کیدای شی باید د نړی ټول مسلمان هیوادونه له اسلامی وحدت نه په الهام اخیستلو سره د نړیوال استکبار دسیسوته متوجه او د هغو د شنډولو لپاره کوښښ وکړی.

نړیوال استکبار تل خپله بقاً د اسلامی نړی په تفرق کی وینی او همدا لامل دی چی د مسلمانانو د تیت پرک کیدو په لاره کی له خپلو هیڅ راز هلو ځلو څخه دریغ نه کوی .

پاتي | حیات ٦ میلون افغان ...

امـارت اسلامی افـغـانـستـان امیدوار است تا کلیه موسسات خیریه بین المللی بدون در نظر داشت هر نوع تعزیرات وملحوظات سیاسی، در جهت رفع این مصیبت طبیعی با مردم بیچاره و حاجتمند ما مساعدت داشته و مسؤولیت انسانی ، بشری خویش را در قبال این آفت بزرگ ادا نمایند.

بقیه | یك تن از تاجران ...

مساعدت تا چند روز دیگر در آن وزارت ادامه دارد.

اهالی نیازمند و بی بضاعت شهـر کابل این گام ارزشمند و انسانی را به فال نیک گرفته و از سایر تاجران و سرمایه داران ملی کشور تقاضا دارند تا سلسله همچو مساعدت ها راد ر شرایط فعلی در شهـر کـابل تقـویت ببخشند.

پاتي | د ستري محکمي ...

وځیړلی او د قاضیانو د اهلیت تقوا او شهرت له خلکو سره د هغوی د چلند د څرنګوالی او دغـــه راز د حقوقی او جزایی دوسیو د حل او فصل د نوعیت په باب بشپړ او مفصل معلومات تر لاسه کړل.

د کتنی او څیړنی په بهیر کی یو شمیر قضایی پرســـونل چی اهل ونه پیژندل شـــول له خپلو دندو څخه ګـــوښه او پر ځای یی صالح او په کـــــار پوه اشخاص وټاکل شول.

دغه راز د محکمو قاضیانو ته په بیلا بیلو برخـو کی ضـــروری لارښوونی وشوی او یو شمیر نافذ او مرعی الاجرا قوانین او اصول او شرعی وثیقی د هغوي په واک کی ورکړل شوی .

د ګډون بیه له هېواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

پاتي | د اریتیریا خلك ...

جبهو ته له نږدی سیمو څخه د امن سیمی په لور روان شویدی چی له دغی جملی څخه په زرګونو تنه سودان ته روان شویدی.

او دا په داسی حال کی دی چی تر اوسه د بیځایه شویو کسانو د مرستی لپاره د نړیوالو سازمانونو لخوا هیڅ یو ګټور اقدام ندي تر سره شوی.

پاتي | هفتاد نفر ...

سابق ارتش که همچنان متهم به قتل معاون رئیس جمهور پاراگوای در سال گذشته است هرگونه دخالت در کودتا را رد کرده اما افکار عمومی در پارگوای وي راعامل اصلی این کـودتای نافـرجـام میدانند.

در حال حاضر حالت اضطراری که از پریروز در سراسر پاراگوای اعلام شده همچنان پابرجاست .

پاتي | کودتاچیان فیجي...

تلویزیون فیجی نیز فلمی را نشـــان داده است کـــه در آن کـودتاچیان تفنگچه را به سر مهندراچودری نشانه گرفته و تهدید کردند اگر نظامیان از اطراف پارلمان دور نشوند وی را به قتل میرسانند به تعقیب این وقایع رئیس جمهور فیجی دیروز گفت از تمام اختـیارات و امکانات خود برای حل مسالمت آمیز بحران موجود استفاده خواهد کرد.

رئیس جمهور فیجی وقوع کودتا را در آنکشور فصل غم انگیزی در تاریخ فیجی خواند و به مردم آنکشور اطمینان داد تمام تلاش خود را برای جلوگیری از خشونت به کار خواهد برد کودتاچیان دیروز بخاطر آنچه آنرا تسلط سیاستمداران گروه های هندی بر دولت فـیـجی خواندند به پارلمان آنکشور حمله کردند و صداعظم و شانزده تن از اعضای کابینه او را به همراه عده دیگر که در محل پارلمان حضور داشتند به گـروگان گرفتند.

فیجی کشور کوچک در جنوب بحر الکاهل در شرق آسیا است که حدود هشت صد هزار نفر نفوس دارد.

پاتي | په روسیه کي یوه ...

سیمي ته نږدی وشوه ددغی ستری دیپـو ټول نظامی مـهـمـات سوزیدلی دی او په داسی حال کی چی په مـهـمـاتو بار موټری د چاودنی په حـــال کی دی د اور وژنی عملی اعلام وکړ چی تر اوسه بی د اور په بشپړه وژنه بری ندی تر لاسه کړی.

د امنیتی مقاماتو په وینا د چاودنی د سختوالی او له هغی نه د راپیدا شویو خطرونو له امله ددغی اداری د شاو خوا د ووکلیو خلکو د خپلی استوګنی سیمه پریښودلی او سرتیری له خپلو قرار ګاوو څخه خوندی سیمو ته ولیږدول شول.

د چاودنی د سختوالی له امله چی تر اوسه یی د کیـدو دلیل روښانه ندی د مهماتو ټوټی تر دو٥ کیلو متری پوری غورځیدلی دی تر اوسه د تلفاتو او احتمالی زیـانـو د اندازی په باب دقیق ملومات نشته خو د اور وژنی د موټرو شمیر د امبولانسونو تګ راتګ ددغی پیښی د پراخو بعـدونو ښرګندوی د روسیی د فوق العاده حالت د وزیر په وینا چی له نږدی څخه یی دغه پیښه څارلی ددی په اعلامولو سره چی د اور سختوالی کم شوی خو تر اوسه لا د اور لمبی دوام لری .

ده ښرګنده کړه چی تیره شپه څه د پاسه پنځه ساعته په اړه کی چاودنو دوام درلود د سنت پترزبورګ پولیسو اعلام وکړ چی په دی اړه دوه شکمن کسان ونیول شول خو څیړنه دغه راز دوام لری.

بقیه | جنګ هاي چریکي...

گرفتن این شهر از طرف روسیه به عمل می آید.

در هفته های اخیر مجاهدین چیچن با استفاده از تکتیک های خاص چریکی تهاجماتی وسیع را علیه عساکر روسی انجام دادند که تا کنون بی سابقه بود.

ولادیمیر پوتین رئیس جمهور روسیه گفته است که یگانه نتیجه قابل قبول در مورد چیچنی ها بزمین گذاشتن اسلحه آنان است و بس.

مگر مجاهدین چیچن به اظهارات پوتین چنین پاسخ گفتند : که جنـــگ های چریکی همیشه در چیچن ادامه خواهد داشت .

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirat of Afghanistan

Chief Editor: Abdurahim Saqeb

Printed by: Emirat Printing Press